لیکوال: هاري تاریخ ۰۷/۰۲/۲۰۰۹

# انتخابات که لویه جرگه؟

ووټونه راغله پیسه سیر پښتو ایمان خرڅیږي
پخوا به جوني خرڅېدلې اوس ځوانان خرڅیږي
ژړا به نه کړم چې غنم جوار ارزان خرڅیږي
پروسکال ګوړي خرڅېدلي سږ بیوپاریان خرڅیږي "غني"

څه موده مخکې، د بینوا د ویب پاڼې د نظرونو په برخه کې ښاغلي کریم سهاک زما د یوې لیکنې "خلاصون او نجات" سره خپله پوره همفکري اعلان کړې وه. ښاغلي سهاک لیکلي وه: که چیرې متحده ایالات ستا تیوري عملي کړي، په افغانستان کې به ضرور مثبت بدلون او ثبات راسي. ښاغلي سهاک دغه راز زیاته کړې وه: د راتلونکي جمهوري ریاست انتخاباتو ته هیڅ اړیتا نسته، ځکه په پخواني انتخاباتو کې ما خپله د کرزي په ګټه فعالیت کړی وو، خو له بده مرغه کرزی" بې کفایته، معامله ګر ، او غوړه مال" را وخوت. هغه زیاتوي: انتخابات د پیسو بې ځایه مصروفول دي. سهاک صاحب د نښې مېنځ ویشتلی دی، او په جواب ارزي.

ما غوښتل چې د ښاغلي کریم سهاک څخه د بېنوا ویب سایټ د نظرنو په برخه کې مننه وکړم، او د هغه د مفکورې سره خپله موافقه سل په سل کې اعلان کړم. خو د نظرنو په برخه کې د خپل جواب په پورته کولو بریالی نه سوم. په همدې لړ کې، له جوابه ورو ورو همدا لیکنه جوړه سوه. اساسي وجه یې دا ده چې مسله ډېره مهمه او سیاسي ده. د افغانستان د راتلونکي سره اورګانیک تړاو لري. تاریخ جوړونکي موضوع ده. که څه هم، انتخابات څه وخندېدل خو هنګامه یې ګرمه ده.

بل پلو، پدې عصر او زمان کې د انتخاباتو سره مخالفت کول،ځرګنده سیاسي کم عقلي ښکاري، ځکه یو خو یې لالا غواړي، او بل یې اروپایي اتحاد هم سخت طرفداره دی. همدا راز، دکابل په حکومت کې د لوی لالا ستر او واړه ګوډاګیان یې هم سخت لېواله دي. د شمال نا مقدسه ملي جبهه یې هم غواړي. طبعا نیم سم او نیم ګوډ او ړانده افغان کاندیدان هم کمپین ورته کوي. هغوی استدلال کوي چې انتخابات حکومت ته مشروعیت ورکوي. اساسي قانون د انتخاباتو امر کوي.

خو واقعیت دا دی چې په افغانستان کې اساسي قانون ندرتآ عملي سوی دی؛ او تېرو انتخاباتو د حکومت مشروعیت او اعتبار لا کمزوری کی. ځکه عامه خلکو د سر په سترګو ولېدل چې انتخابات جعلي او قلابي وه. ټګي برګي پرېمانه وه. د امریکا د خوښې جنګسالارانو، بې واکه کاندیدانو، او د دیرش کلن ناورین د ښکر ورو متخلفینو کامیابي مسلمه او حتمي وه. د انتخاباتو په جریان کې، ووټونه او رایې د سیاست په ازاد مارکېټ کې تبادله کېدلې. چنې او ناندرې وې؛ او یوه ضروري سیاسي پروسه ریشخند او مضحکه کېدله. په سپینه ورځ، د دیموکراتیکو اصولو پر حدودو باندې تېری او تجاوز کېدی.

په عین حال کې، د یوه مبصر او سیاستوال لپاره د متحده ایالاتو او ناټو له نظر او نیت سره مخالفت ځانمرګي عملیاتو ته پاته کېږي. د افغانستان په ننني سیاسي کلتور کې د عمومي جریان او ترهېدلي سیاسي ګورم پر خلاف درېځ غوره کول، د یوه سیاستوال د پرمختګ لپاره زهر قاتل دي.

خو حقیقت دا دی چې ټول اوسني مشهور کاندیدان په ولس کې ریښنه او سیاسي بېس نلري. د مخکښو کاندیدانو په جمله کې نه ښاغلی ډاکټر اشرف غني، نه ښاغلی علي احمد جلالي، نه ښاغلی رمضان بشر دوست، نه ښاغلی حامد کرزی، او نه هم په سلهاوو نور کاندیدان نه کم حزب لري او نه هم کم محسوس سیاسي تشکیلات. هر یو په یوازې سر بسته حزب،پوره ټیم، او هم د راتلونکي حکومت مشر او ټولواک دی. ټول د لوی خان برېتو او سرو سترګو ته ګوري. ګردو ته د خان له کوره بودۍ راځي. او اکثره د واشنګټن په ساحه کې د امریکایي مقاماتو په مېنځ کې د خپل ځان لپاره شپه و ورځ په جدي کمپین لګیا دي. د دوی د انتخاباتي کمپین فوکس د واشنګټن د ښار څو محدود وزارتونه او تحقیقاتي مرکزونه دي او بس. مطلب دا دی چې افغاني ټولنه بلکل هېره سوېده.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د امریکایي او غربي څېړنو په اساس، تقریبا د هېواد په ۷۰ فیصده خاوره کي طالبان او نور مسلح داړه ماران دایمي حضور لري. د افغانستان اکثره لوی ښارونه محاصره دي. لویې لارې نا امني او خطرناکه دي. امنیت خراب دی. حکومت او پولیس کمزوري او فاسد دي. پداسي شرایطو کي د انتخاباتو کول نا ممکن دي. احیانا که چیري انتخابات وسي، د پخوا په شان به د امریکا په ملاتړ همدا پېژندل سوي جنگسالاران او بد نامه چارواکي یو ځل بیا انتخاب سي. څکه په شمال کي بلکل د جنگسالارانو حکم چلېږي. په جنوب کي، مرکزي حکومت د طالبانو له ډاره له کور او دفتره نسي راوتلای. په شرق کي، د امریکا په ملاتړ حضرت علي، حاجي دین محمد، دلته او هلته د حزب اسلامي پاټي شوني، او یو لړ نور پخواني جگړه ماران حاکم دي. په غرب کي، د ایران په ملاتړ محلي خرڅ سوي ډلنگیان حکومت کوي. په داسي شرایطو کي د عادلانه، ازادو، او مشروع انتخاباتو خبري کول دوکه، فراډ، او سپېره عوام غولونه ده.

زه د دیموکراسی مخالف نه یم، بلکي باور لرم چي دیموکراسي تر ټولو نورو سیاسي نظامونو ښه او بهتره سیستم دی. ټول دیموکراتیک او ازاد ملکونه پرمختللي او باثباته دی. په تاریخ کي هیڅکله د دوو دیموکراسیو تر مینځ جگړه نده پېښه سوې. ټول ازاد ملکونه د اقتصاد له نظره پرمختللي او اباد دي. د دیموکراتو ملکونو خلک تعلیم یافته، پوه، او شتمن دي. مینځینۍ طبقه پراخه او غښتلي وي. حکومت مشروعیت او موثریت لري. او لنډه داچي په دیموکراسی کي د بني ادمانو نه بېلېدونکي خدایي حقوق او انساني کرامت خوندي وي.

د ۱۹ پېړۍ فرانسوی سیاسي متفکر او د امریکا د تاریخ مشهور مبصر، الکسېس دي ټوکویل، په خپل کتاب (۱۸۳۵) " ډیموکراسي په امریکا کي" لیکي: که چیري زموږ د عصر او زمان انسانان د یوه ژور او رشتین تفکر وروسته پدې قانع سي چي د اجتماعي مساوات او ازادی د مفکورې تدریجي او دایمي انکشاف او خورېدل یقینا د انساني ټولنو ماضي او راتلونکی سیاسي جهت تشکیلوي، نو همدا کشف او اعتراف به دغه تاریخي بدلون ته یو الهي او مقدس رنگ او کرکټر ورکي. فرانسوی سیاسي نابغه د انساني ټولنو د سیاسي تکامل د نهایي جهت او ادرس په باب وایي: پدې صورت کي به د دیموکراسی د خورېدو مخنیوی د خدای د ارادې سره دغري وهل وي."

د الکسېس دي ټوکویل لدې حیرانونکي سیاسي اټکل څخه قریب ۱۷۰ کله را وروسته، د یوې سروې په اساس، د کال ۱۹۷٤ راهیسي څه د پاسه ۹۰ هېوادونو دیموکراسي منلي ده؛ او د یوشتمي پېړۍ د پیلېدو سره سم، د جهان قریب ٦۰ فیصدو مستقلو هیوادونو دیموکراتیک او ا زاد نظامونه لرل. د ځینو سیاسي تیورسانانو په گومان به بالاخره ټول سیاسي نظامونه د دیموکراسی په درشل کي ځانونه تسلیم کي.

که پخپله سیمه کي هند او پاکستان سره مقایسه کوو. هند د نړۍ د سترو او پوخو دیموکراسیو له جملي څخه دی. اقتصاد یې په حیرانونکي توگه انکشاف کوي. هند د کمپیوټر او اې ټي د ټیکنالوژۍ په نړیوال مرکز بدل سوی دی. هند ازاد مطبوعات لري او د انگریزي مطبوعاتو سویه یې د غرب سره سیالي کوي. په مقابل کي، په پاکستان کي یو جنرال کته او بل سپرېږي. یوه کودتا لا څوانه وي چي بله پر وسي. د پاکستان اقتصاد ویجاړ، بېکاري ډېره، او په شمالي، غربي، او جنوب شرقي برخو کي پراخ قومي او ایتنکي پرابلومونه لري. په اسلامي ملکونو کي، یوازي مالیزیا او ترکیه ده چي څه دیموکراسي او ازادي پکي مراعاتېږي، او دواړه پرمختللي، با ثباته، او ماډل ملکونه دي. دواړه په اسلامي هېوادونو کي په اقتصادي او سیاسي لحاظ سیال او ساری نلری. دغه راز، که چیري غرب او پخوانی شرقي بلاک سره مقایسه سي، د غرب پله په هر لحاظ ډېره درنه ده. شرقي بلاک بلکل ختم او ورک سو، خو غربي بلاک خپل قوت او اپیل ساتلی دی.

په پاي کي، پوښتنه دا ده چي انتخابات که لویه جرگه؟ زما په نظر د افغانستان اجتماعي، اقتصادي، او سیاسي شرایط د دیموکراسی او عمومي انتخاباتو لپاره چمتو ندي. قوي او غښتلي مینځنۍ طبقه نسته. ازاد او پرمختللي مطبوعات درک نلری. مدني ټولنه ټوکر ټوکر او نامنظمه ده. بې سوادي عامه ده. او تر ټولو خطرناکه دا چي افغانان د یوه ملي سیاسي هویت په نشته والي او په تباه کونکو قومي او ایتنکي جنجالونو گرفتاره دي. هیڅ ډول دقیقه احصاییه نسته. حتی نفوس معلوم ندی. په اقتصادي لحاظ، افغانستان د ملگروملتونو د انکشافي انډیکس په معیارونو کي د نړۍ تر ټولو فقیر او غریب هېواد دی. برسېره پر دې مشکلاتو، افغانستان د حکومت په څرگند کسر او ډفیسټ مبتلا دی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بلخوا، يوازي په جعلي انتخاباتو  مشروعيت او ديموكراسي نه تقويه کېږي. د شوروي اتحاد كمونسټ حزب منظم او پر وخت انتخابات كول، خو پرته له كمونستانو بل هيڅوک نه انتخابېدل.  په اوزبكستان كي، هر ځل پخوانی كمونسټ ديكتاتور  اسلام كريموف ۹۹ فيصده رايي ګټي.  په مصر كي، ښاغلی حسني مبارک د پوليسو او ټګي برګي په زور بار بار  انتخابيږي. د صدام حسين په انتخاباتو كي مخالفانو له ډاره سوڼ نسوای وهلای.  دغه راز  د طالبانو د سقوط سره سم، په افغانستان كي هم څو ځله جعلي او فراډ  انتخابات وسول، خو د هېواد سياسي مشكل يې حل نه کی.  مطلب مي دا دی چي يوازي انتخابات يوه حكومت ته مشروعيت نه سي وركولای. مشروعيت د خلكو عمومي رضايت، اطاعت، احترام، او دفاع ته وايي، نه جعلي او فراډو انتخاباتو ته.  لنډه دا چي تر  قلابي انتخاباتو نه انتخابات ډېر بهتره دي.

زه ګومان كوم چي د افغانستان د راتلونكي مشر د ټاكلو لپاره د يوې اضطراري لويي جرګې راغوښتل تر ټولو عملي او پركټيكل لاره ده. دې لويي جرګې ته بايد داسي استازي وټاكل سي چي يا په خلكو كي ښه ولري او يا پاكه سابقه ولري. په بل عبارت، د ښه شهرت خاوندان وي، او د پخوانيو لويو جرګو د استازو  په شان يې لاسونه د خلكو په وينو ككړ نوي.  غله او داړماران نوي.  همدا لويه جرګه دي د ښاغلي غني، ښاغلي جلالي، او ښاغلي بشر دوست څخه يو د جمهورريس په توګه انتخاب كي؛ او وروسته  دي زما د "خلاصون او نجات" تيوري عملي كړي.  زه يقين لرم چي ډېر ژر به ثبات او سوله ټينګه سي.  طالبان او القاعده به ورک او سټ سي.  اقتصاد به انكشاف او وده وكي، او د افغان ولس كور به يو ځل بيا ښاد او اباد سي.  والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de